د افغانستان بانک

د غیر بانکي مالي مؤسساتو د څارنې لوی آمریت

د مقرراتو او د بریښنایي پیسو او اداینېزو مؤسسو د څارنې مرستیالیت

د مقرراتو ستر مدیریت

گڼه: ۷۸۰۱

نېټه: ۱۴۴۸/..۵.../..۹.. ۱۴۰۵/۷/۲۹

۹۱۱۰ / ۶۰۰۱

۹۱۲۵ / ۶۰۰۴

بسم الله الرحمن الرحیم

د ا.ا.ا د کورنیو چارو د قدر وړ وزارت ته!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته:

ماهیت: متحدالمال

موضوع: د افغانی کارول (ترویج) او په معاملاتو کې د اسعارو د راکړې ورکړې د مخنیوي په اړه

له ډیر درناوي وروسته؛

د دې اداری د ۳۶۹۸ ګڼې ۱۴۴۷/۰۳/۱۴ نېټې لیک په تعقیب لیکل کیږي:

د پېر او پلور په معاملاتو کې د افغانیو کارول او د بهرنیو اسعارو د کارونې د مخنیوي په موخه د دې اداري د لازم لیدلو او د ریاست الوزراء د قدر وړ مقام د ۴۰۸۸ ګڼې ۱۴۴۶/۰۷/۲۶ نېټې حکم پر بنسټ لاندې شرایط د پلي کیدو وړ دي:

1) ټول هیوادوال دې د راکړې ورکړې په مهال د هیواد ملي پولي واحد (افغانی) وکاروي؛
2) هیڅوک نشي کولای چې د هیواد د هوایي ډګرونو له لارې تر پنځو زرو (۵۰۰۰) زیات او د ځمکني سرحدونو له لارې تر پنځه سوو (۵۰۰) څخه زیات امریکایي ډالر له ځان سره په نقدې توګه بهر ته انتقال کړي؛
3) هیوادوال کولای شي بهر ته د سفر پر مهال د ګاونډیو هیوادونو اسعار له ځان سره انتقال کړي؛
4) هغه اشخاص چې له ځان سره د لسو زرو (۱۰،۰۰۰) افغانیو معادل د ګاونډیو هیوادونو اسعار ولري هغوی ته دي د امنیتي مسؤولینو له لوري پرته له کوم مزاحمت څخه توصیه وشي چې ذکر شوي اسعار د هیواد پولي واحد (افغانی) ته تبدیل کړي؛
5) د سرحدي سیمو څخه ولایتونو ته د سیمې هیوادونو اسعار انتقالول منع دي، اما د ولایتونو څخه سرحدي سیمو ته د سیمې هیوادونو د اسعارو پر انتقال کوم بندیز او ممانعت نشته؛ او
6) د سیمې د اسعارو د چکونو راوړل، نغدي کول او کارول ، همدارنګه د هغو بریښنایي وسایلو (POS) ماشینونو راوړل او کارول چې د ګاونډیو هېوادونو مالی سیستمونو سره تړاو لري او د افغانستان د مالي سکتور سره اړیکه نلري، په کلکه منع دي.

موضوع په پورته تفصیل سره تاسو ته استول کیږي، هیله ده چې د افغانی کارونې (ترویج) په برخه کې، هیواد ته د ګاونډیو هیوادونو د اسعارو راوړلو مخنیوي او د بهرنیو اسعارو د انتقال په اړوند د پورته یادو مواردو په پام کې نیولو سره له دې اداري سره هر اړخیزي همکاري وکړي.

د افغانستان بانک تاسوته په چارو کې د لا بریاوو غوښتونکی دی. **والسلام**

نور احمد آغا

د افغانستان بانک د ټولو رئیس

۱۴۴۸/۵/۹

کاپي:

د سترې محکمې د قدر وړ لوی ریاست ته، د استخباراتو د قدر وړ لوی ریاست ته، د ملی دفاع د قدر وړ وزارت ته، د مالیې د قدر وړ وزارت ته، د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو د قدر وړ وزارت ته، د دفتر ریاست د قدر وړ لوی آمریت ته، د بانکي څارنې او مالي خدماتو د قدر وړ لوی آمریت ته، د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې د قدر وړ مرکز ته، د پولي سیاست د قدر وړ لوی آمریت ته او د صرافی او پولي خدمتونو د قدر وړ اتحادیو ته.

د افغانستان بانک، ابن سیناوات، کابل افغانستان/ تیلیفون ۲۱۰۴۷۶۱ (۲۰) ۰۰۹۳/ ایمیل: af.
ټولنیزې شبکې فیسبوک - د افغانستان بانک / توییټر - @AFGCentralbank